د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af*
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# په بهرنیو هېوادونو کې افغان کډوال او پر هېواد یې سیاسي او امنیتي اغېزې

# Afghan Refugees in Foreign Countries and Their Political and Security Impacts on Afghanistan

ډاکتر مصباح الله عبدالباقي[1]، فتیح الله احدی[2] او عطاءالحق انس[3]

**DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n6.2025**

## د څېړنې لنډیز

په بهرنیو هېوادونو کې زیات شمېر افغان کډوال ژوند کوي، چې د بېلابېلو لاملونو له امله کډوالۍ ته اړ شوي دي، خو بنسټیزه پوښتنه دا ده چې دا افغان کډوال چې په بهرنیو هېوادونو کې شتون لري په افغانستان باندې څه سیاسي او امنیتي اغېزې لري؟ همدا موضوع په دې څېړنه کې څېړل شوې ده، د څېړنې میتود تاریخي یا استردادي دی، دا د سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو د څېړلو لپاره یو مهم او مناسب میتود دی، د څېړنې پایلې په ګوته کوي چې لکه څرنګه چې په تېر تاریخ کې په بهرنیو هېوادونو کې د افغانو کډوالو شتون پر هېواد زیاتې اغېزې درلودې همدا راز به یې په اوسنیو شرایطو کې هم ولري، له دې اغېزو څخه ډېرې مهمې اغېزې سیاسي او امنیتي اغېزې دي، دا اغېزې یو څه مثبت اړخونه هم لري خو منفي اړخونه یې غالب دي، په پای کې په دې ټینګار شوی چې د کډوالۍ دا پدیده د هېواد لپاره یوه منفي پدیده ده نو لازمه ده چې باید هواره کړی شي او د هوارولو تر ټولو بنسټیزه لار یې دا ده چې د کډوالۍ هر ډول لاملونه له منځه یوړل شي.

**بنسټیز کلمات: افغان کډوال، سیاسي اغېزې، امنیتي اغېزې، اجباري راستنول، سیاسي فعالیتونه، نظامي فعالیتونه.**

ISSN: 3078-9583 (Online)
ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸
تعداد صفحات: ۲۱
از صفحه ۹۲ تا ۱۱۲

[1] د شرعیاتو پوهنځي استاد او د سلام پوهنتون رئیس، 0771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com
[2] د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، سلام پوهنتون، کابل. 5750 170 79 93+. Fetehullah.ahady2020@gmail.com
[3] د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، سلام پوهنتون، کابل. 0784361717. Ataulaqanas333@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سریزه

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين، و على آله وأصحابه أجمعين و بعد.

کډوالي زموږ د هېواد يوه داسې ستونزه ده چې په معاصر تاريخ کې شايد کوم بل هېواد داسې نه وي چې د دومره اوږدې مودې لپاره دې د کډوالۍ د ستونزې سره لاس او ګرېوان پاتې شوي وي لکه زموږ هېواد او هېوادوال چې ترې کړېدلي دي او لا هم ترې کړېږي، زموږ د هېواد زيات وګړي د کډوالۍ په حالت کې له دنيا څخه ولاړل، نور هېوادوال مو د کډوالۍ په حالت کې وزېږېدل، په کډوالۍ کې د ژوند زيات مراحل تېر کړل او اوس هم د کډوالۍ په حالت کې ژوند کوي، د کډوالۍ دا قضيه بايد له بېلابېلو اړخونو وڅېړل شي، ځکه په تېره نيمه پېړۍ کې چې څومره سترې اغېزې کډوالۍ زموږ پر هېواد او ملت پرې ايښې دي شايد کومه بله پديده دومره اغېزناکه نه وي پاتې شوې، له همدې امله زه هم د دې قضيې يوه اړخ غواړم په دې مقاله کې وڅېړم.

### د مسألې طرحه

د هېواد څخه بهرنيو هېوادونو ته د افغانانو تلل او کډه کول زموږ په ټولنه او هېواد زياتې اغېزې لري، دا اغېزې د ژوند په بېلابېلو اړخونو پرېوتي او تر اوسه هم ادامه لري، په دې کې زموږ په هېواد اقتصادي مثبتې او منفي اغېزې شته دی، په ټولنيز او کلتوري ډګر کې اغېزې شتون لري، همدا راز په بهرنيو هېوادونو کې او په ځانګړې توګه په ګاونډيو هېوادونو کې د کډوالو شتون زموږ د ټولنې او هېواد لپاره سياسي او امنيتي پايلې لري، همدا راز د هېواد په پرمختګ او وروسته پاتې والي اغيزې لري. له دې اغېزو څخه زما په اند تر ټولو مهمې اغېزې سياسي او امنيتي اغېزې دي؛ ځکه سياسي او امنيتي اغېزې نورو ډېرو اغېزو ته لاره برابروي، له دې امله دا اغېزې بايد په دقت سره وڅېړل شي، په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو د شتون سياسي او امنيتي پايلې او اغېزې څه معنی لري؟ او له دې څخه زموږ هدف څه دی؟ د کډوالۍ مثبتې اغېزې څنګه تقويه کولی شو او د منفي اغېزو څخه يې څرنګه خپله ټولنه او هېواد ساتلی شو؟ دا څېړنه به همدا موضوعات په لنډه توګه وڅېړي.

خو دا اغېزې او ستونزې به يواځې په نظري ډول نه څېړل کېږي، په دې معنی چې موږ دا وڅېړو چې کډوالي او په بهرنيو هېوادونو کې د يو هېواد د زياتو وګړو کډوالي څه اغېزې او ستونزې رامنځته کولی شي؟ بلکې دا څېړنه به په دې ترکيز کوي چې په عملي توګه په تېرو پنځوسو کلونو کې بهرنيو هېوادونو ته د افغانستان د وګړو کډوالي او هلته د دوی شتون پر هېواد څه ډول اغېزې درلودې او اوس څه ډول اغېزې درلودلی شي؟

### د څېړنې ميتود

موږ به په دې څېړنه کې د تاريخي او يا استردادي ميتود څخه استفاده کوو، دا ميتود يو د هغو ميتودونو څخه دی چې د پخوانيو حوادثو د تحليل، څېړنې او د هغوی څخه د درسونو او عبرتونو د لاس ته راوړلو په منظور ترې استفاده کېږي، چې زموږ د څېړنې موضوع هم همداسې يوه موضوع ده، ځکه موږ غواړو چې دا وڅېړو چې په تېرو پنځو لسيزو کې په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو شتون د هېواد لپاره څه پايلې درلودې او د سياسي او امنيتي پلوه يې زموږ په ټولنه څه اغېزې پرې ايښې دي، چې د دې په رڼا کې به موږ دا وګورو چې په بهرنيو هېوادونو کې د افغانانو شتون په راتلونکې کې پر افغانستان څه پايلې او اغېزې ولرلی شي، ځکه کوم حوادث چې په پخوا زمانه کې سرته رسېدلي دي د هماغه رنګ حالاتو په برابرېدو هغه حوادث په

راټلونکې کې بیا هم تکرارېدلی شي[4]. د دې میتود لنډیز دا دی:

- د څېړنې بنسټیز سوال باید مطرح شي چې په نتیجه کې یې باید هغه پدیده ځانګړې شي چې څېړل یې مطلوب دي.
- د څېړنې لپاره باید مصادر او مراجع وټاکل شي.
- دا مصادر او مراجع باید نقد کړی شي، تر څو د اعتماد وړ مصادر په کې وټاکل شي، او د اعتبار له پلوه ترتیب کړی شي.
- په دې اړه باید د اعتبار وړ مصادرو او مراجعو څخه معلومات راټول کړی شي، هر څومره چې مصدر په لومړي لاس معلوماتو باندې مشتمل وي په هماغه اندازه به مصدر او مرجع زیات د اعتبار وړ وي.
- د حوادثو ترمنځ د اړیکو د معلومولو لپاره باید راټول کړی شوي معلومات تحلیل کړی شي.
- علمي نتائجو ته د رسېدو په موخه باید راټول کړی شوي معلومات په موضوعي ډول تفسیر کړی شي.
- په پای کې باید دا نتائج د یو علمي راپور په شکل کې ولیکل شي.

**د دې میتود ستونزې**

د دې څېړنیز میتود ستونزې یواځې په دې کې دي چې د پخوانیو حوادثو په اړه د اعتبار وړ مصادرو ته لاس رسی ستونزمن کار دی، په ځانګړې توګه چې دا حوادث د ډېرې پخوانۍ زمانې سره تړاو ولري، ځکه هر مصدر هره حادثه د خپل تصور په رڼا کې ثبتوي او حادثې ته د خپلو معتقداتو او تصوراتو له عینکو څخه ګوري[5]، خو له نیکه مرغه مورږ چې کومه قضیه د څېړنې لاندې نیسو او په کومو عمومي حوادثو چې استدلال کوو د هغو حوادثو په اړه هیڅوک هم دوه نظرونه نه لري، یواځې همدومره کېدلی شي چې څوک یې په یو شکل تفسیروي او څوک یې په بل ډول تفسیروي، همدا راز څوک ورته د ضرورت د نظریې له پلوه په مثبت نظر ګوري او څوک یې په منفي ډول تحلیلوي.

د دې میتود په رڼا کې مورږ ګورو چې په تېرو پنځوسو کلونو کې زمورږ هېواد د هغو افغانو کډوالو څخه په سیاسي او امنیتي اړخ کې څومره اغېزمن شوی دی چې په بهرنیو هېوادونو کې یې شتون درلود، د تېرو پنځوسو کلونو حوادث خو داسې حوادث دي چې زمورږ په مخ کې تېر شوي دي، له دې امله مورږ غالبا د دې معلوماتو لپاره نورو مصادرو ته اړتیا نه لرو، بلکې هغه معلومات بسنه کوي چې مورږ پخپله مشاهده کړي دي، او دا معلومات د لومړي لاس معلومات بلل کېږي، ځکه د لیکوال پر خپلو مشاهداتو باندې ولاړ معلومات دي، او کله چې دا معلومات د اعتماد وړ وي نو بیا په څېړنه کې کومه بله ستونزه شتون نه شي درلودی، په دې توګه ویلی شو چې د څېړنې د میتود له پلوه د دې څېړنې پایلې د اعتماد وړ دي.

---

[4] - دا میتود د قرآن کریم له ډېرو ایتونو څخه مستفاد دی، په ډېرو آیتونو کې په دې توګه قرآن کریم د قضایاو اثبات کوي، د بېلګې په توګه دا څو ایتونه لولو: { قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ} [آل عمران: 137] {قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ} [الأنعام: 11] {ثُمَّ بَعَثْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ مُوسَى بِآيَاتِنَا إِلَى فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَظَلَمُوا بِهَا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ} [الأعراف: 103] {أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً} [فاطر: 44] او په دې لاندې ایت کریمه کې خو په ډېر صراحت سره د دې علت ښایي چې همدا د الله تعالی ټولنیز قانون دی چې هیڅکله هم بدلون نه مومي، فرمایي: {فَهَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ فَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا} [فاطر: 43]

[5] - د دې میتود د تفصیل لپاره وګورئ: بدوي، عبد الرحمن، مناهج البحث العلمي، (وكالة المطبوعات، شارع فهد السالم، الكويت) درېم چاپ، کال ۱۹۷۷م، ص ۱۸۳ تر ۲۳۱.

### د څېړنې پوښتنه

په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو موجوديت پر هېواد باندې څه مثبتې او منفي سياسي او امنيتي اغېزې درلودلی شي؟

### د څېړنې فرعي پوښتنې

په ګاونډيو هېوادونو لکه ايران، پاکستان او تاجيکستان کې د افغانو کډوالو شتون څه سياسي او امنيتي اغېزې درلودلی شي؟

د نړۍ په نورو هېوادونو کې د افغانو کډوالو شتون پر هېواد څه سياسي او امنيتي اغيزې درلودلی شي؟

پر هېواد باندې په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو د شتون منفي اغېزې څرنګه په مثبتو اغېزو بدلون موندلی شي، او مثبتې اغېزې څرنګه تقويه کېدلی شي؟

پر هېواد باندې په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو د شتون د منفي اغېزو مخنيوی څرنګه ممکن دی؟

### په دې اړه مخکېنۍ څېړنې

د کوربه هېوادونو په امنيتي او سياسي حالاتو د افغان کډوالو د اغېزو په اړه خو ډېرې څېړنې شتون لري چې د بېلګې په توګه لاندې څېړنو ته اشاره کوم:

لومړۍ څېړنه د "**علل و ویژگی‌های مهاجرت اتباع افغانستان به ایران و تأثیر آن بر امنیت ملی جمهوری اسلامی ایران بعد از انقلاب اسلامی**"[6] تر عنوان لاندې ده، دا څېړنه چې يدالله محمدی، حسن خداوردی، ګارينه کشيشيان، مسعود مطلبی په ګډه ليکلې ده او د ايران په فصلنامه راهبرد سياسي په مجله کې په کال ۱۳۹۹هـ ش کې چاپ شوې ده، د کوربه هېوادونو په ځانګړي ډول د ايران په امنيتي او سياسي حالاتو په هغه هېوادونو کې د کډوالو افغانانو اغېزې څېړي، او هلته د دې کډوالو د شتون د امنيتي نتائجو په اړه څېړنه کوي، خو کله امنيتي اغېزې څېړي نو د امنيت څخه عامه معنی مراد اخلي چې هغه سياسي امنيت ته هم شامله معنی ده، يعنې په دې څېړنه کې سياسي او امنيتي دواړه ډوله اغېزې څېړل شوي دي، دا څېړنه زموږ د موضوع سره دومره تړاو لري چې په ايران کې افغان کډوال شتون لري او دا شمېر څومره دی، خو دا نه څېړي چې د افغانستان په امنيتي او سياسي حالاتو د دې کډوالو شتون څه اغېزې لري.

دويمه څېړنه د «**بررسی رابطۀ پناهندگان افغانستانی در جمهوری اسلامی ایران با سطوح امنیت**»[7] تر عنوان لاندې ده چې د محمد هداوند او د هغه د همکارانو له لوري ليکل شوی ده او په ۱۴۰۳هـ ش کې په «فصلنامه مطالعات راهبردی سیاست بین الملل» مجله کې چاپ شوې ده، په دې څېړنه کې په ايران کې د افغانو کډوالو د موجوديت او د ايران د امنيت د بېلابېلو ابعادو ترمنځ اړيکه څېړل شوی ده، سره له دې چې سياسي امنيت يې هم څېړلی دی خو بيا هم زموږ د څېړنې سره بشپړ توپير لري ځکه چې موږ په دې څېړنه کې د افغانستان د سياسي او امنيتي وضعيت او په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو د شتون ترمنځ اړيکه څېړو.

---

[6] - محمدی, یدالله , خداوردی, حسن , کشیشیان, گارینه و مطلبی, مسعود . (1398). علل و ویژگی‌های مهاجرت اتباع افغانستان به ایران و تأثیر آن بر امنیت ملی جمهوری اسلامی ایران بعد از انقلاب اسلامی .*رهیافت انقلاب اسلامی. 13(49) 65-86*..

[7] - https://civilica.com/doc/2146373/

دريمه څېړنه د «**تحلیل و بررسی تهدیدات و فرصت های سیاسی- امنیتی مهـاجران افغانسـتانی بـرای جمهـوری اسـلامی ایران**»[8] تر عنوان لاندې د سيد صالح موسوي او عباس کشاورز شکري له پلوه په ګډه ليکل شوی ده، او په ۱۴۰۳هـ ش کې پـه فصلنامه راهبرد سياسي کې چاپ شوی ده، دا مقاله هم هغه مثبتې او منفي اغېزې څېړي چې افغان کډوال يې د ايران لپاره د ځان سره لري.

همدا راز د پاکستان پر سياسي او امنيتي حالاتو د افغانو کډوالو پر اغېزو باندې هم زياتې اکاډميکې ليکنې شتون لري، خو دا او داسې نورې ټولې مقالې په دې اړه څېړنه نه کوي چې د هغو افغانو کډوالو اغېزې پر افغانستان باندې څه دي چې په نورو هېوادونو کې شتون لري، دا تشه بايد دا څېړنه ډکه کړي.

### د څېړنې اهميت

دا څېړنه ډېره مهمه ده، ځکه په دې کې داسې يوه موضوع څېړل کېږي چـې د هېـواد د سـياسي او امنيتـي ثبـات سره تـړاو لري، که چېرته په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو قضيه  او پر هېواد يې منفي سياسي او مثبتې اغېزې په جـديت سره و نـه څېړل شي، او په نتيجه کې يې د معالجې هڅه و نه شي نو هېواد يو ځل بيا د بې ثباتۍ لـور تـه تللـی شي، لـه دې املـه د دې څېړل اړين دي چې په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو شتون پر هېواد څه ډول سياسي او امنيتي اغېزې درلودلی شي.

### د سياسي او امنيتي اغېزو معنی

په دې څېړنه کې چې د سياسي او امنيتي اغېزو په اړه څېړنه کول مطلوب ده نو اړينه ده چې موږ په پيـل کـې د سـياسي او امنيتي اغېزو مفهوم واضح او مشخص کړو.

### سياسي اغېزې

د سياسي اغېزو څخه زموږ هدف دا دی چې دا وڅېړل شي چې په بهرنيو هېوادونو کې د کـډوالو افغانـانو شـتون پـه لانـدې برخو کې پر افغانستان باندې څه اغېزې لري:

- د هېواد د سياسي حالت په استحکام او عدم استحکام باندې د دوی اغېزې.
- د موجوده نظام په مقابل کې د سياسي معارضې په ايجـاد او تقويـت کـې پـه بهرنيـو هېوادونـو کـې د افغـانو کـډوالو اغېزې.
- د موجود سياسي نظام او سياسي قيادت په بدلون کې د بهر ميشتو افغانانو رول.
- د بهرنيو اړيکو، اقتصادي او مالي مرستو او بهرني سياست په اړه په بهرنيو هېوادونو کې د ميشتو افغانو کډوالو اغېزې او رول.
- د نړيوالو ځواکونو او بهرنيو هېوادونو له پلوه د افغانستان د حکومت او دولت د رسميت پېژنـدلو پـه پروسـه بانـدې پـه بهرنيو هېوادونو کې د ميشتو افغانو کډوالو اغېزې او رول.
- د نړۍ د هېوادونو سره د سياسي اړيکو په تقويه کولو، کمزوري کولو او له منځه وړلو کې د دې کډوالو رول او اغېزې.

---

[8] - موسوی، سید صالح و کشاورز شکری، عباس . (1403). تحلیل و بررسی تهدیدات و فرصت های سیاسی- امنیتی مهاجران افغانستانی برای جمهوری اسلامی ایران. *فصلنامه علمی راهبرد سیاسی. ۸ (۳) ۱۹۱-۲۲۷ . د مقالې لنډ لينک (https://shorturl.at/DH20T)*

### امنیتي اغېزې

په بهرنیو هېوادونو کې د میشتو افغان کډوالو پر هېواد باندې د امنیتي اغېزو مطلب دا دی چې د دې کډوالو شتون په لاندې ډګرونو کې څه اغېزې درلودلی شي:

- په بهرنیو هېوادونو په ځانګړي ډول په ګاونډیو هېوادونو کې د افغانو کډوالو په ګڼ شمېر کې شتون د نظام پر ضد د نظامي مبارزه کوونکو مسلحو ډلو په رامنځته کولو او په افرادو باندې د دې ډلو په تغذیه کولو کې د دوی رول او اغېزې.
- افغانستان او اسلامي امارت ته د امنیتي ګواښونو په متوجه کولو کې په بهرنیو هېوادونو کې شتو افغانو کډوالو رول او اغېزې.
- په بهرنیو هېوادونو کې د موجودو کډوالو څخه د خپلو ګټو لپاره د کوربه هېوادونو د استخباراتو د استفادې نوعیت او پر هېواد یې اغېزې.
- د راستنېدونکو کډوالو په جامه کې د کوربه هېوادونو د استخباراتو له پلوه د خپلو جاسوسانو او مزدورانو په ځای پر ځای کولو کې د دې پروسې رول او اغېزې.

د امنیتي اغېزو د څېړلو څخه مو هدف دا دی چې دا ولیدل شي چې په دې پورته مواردو کې زموږ هېواد د بهر میشتو افغانانو څخه په څه ډول اغېزمن کېږي.

### یو بنسټیز حقیقت

یو بنسټیز حقیقت چې دلته یې باید یادونه وکړو دا دی چې په بهرنیو هېوادونو کې میشت ټول افغان کډوال په هغو منفي فعالیتونو کې ښکېل نه دي چې وروسته یې یادونه کېږي، او د هېواد او په هېواد کې د موجود نظام لپاره امنیتي او سیاسي ستونزې رامنځته کوي، بلکې په بهرنیو هېوادونو کې د افغان کډوالو شتون د هغو خلکو لپاره پوښښ برابروي چې د هېواد لپاره امنیتي او سیاسي ستونزې رامنځته کوي، له دې امله د کډوالو شتون په ټوله کې یوه ستونزه ده چې د هېواد لپاره تاوانونه پرې مرتبېږي، نو دا ستونزه حل کول غواړي، همدا راز موږ باید دې ته متوجه و اوسېږو چې په اوږد مهال کې له دې څخه ډېرې ستونزې رامنځته کېدلی شي چې موږ په دې څېړنه کې یواځې سیاسي او امنیتي ستونزو ته اشاره کوو، له دې امله باید نور خلک د هېواد پرېښودلو ته اړ نه کړو چې په نورو هېوادونو کې د کډوالو په توګه ژوند وکړي.

### مثبتې که منفي اغېزې؟

اوس سوال دا را ولاړېږي چې په بهرنیو هېوادونو کې د افغانو کډوالو شتون د هېواد په امنیتي او سیاسي حالاتو مثبتې اغېزې لري که منفي اغېزې؟

د دې سوال په ځواب کې باید ووایو چې په بهرنیو هېوادونو کې میشت افغان کډوال د لاندې دوو حالتونو څخه خالي نه دي:

لومړی: هغه افغان کډوال چې په بهرنیو هېوادونو کې شتون لري، که په افغانستان کې د موجود او شته نظام او حکومت سره توافق ولري، او دا نظام د هغوی له تأیید څخه برخمن وي نو په دې حالت کې په سیاسي او امنیتي ډګرونو کې د حکومت او نظام د تقویې لامل ګرځي او په دې لړ کې ډېر مثبت رول لوبولی شي، ځکه د کوربه هېوادونو د رسمي او حکومتي اړخونو او همدا راز د هغو هېوادونو د وګړو سره د مثبتو اړیکو په درلودلو سره هلته د خپل هېواد او نظام ښه وکالت کولی شي، د هېواد

مثبت انځور وړاندې کولی شي، د کوربه هېوادونو حکومتونه او ملتونه په افغانستان کې د شتو فرصتونو څخه خبرولی شي او د مثبتو سياسي او اقتصادي اړيکو د رامنځته کولو لامل ګرځېدلی شي.

په کوربه هېوادونو کې د شتو فرصتونو څخه د خپل هېواد په ګټه استفاده کولی شي، هلته د ښو تعليمي فرصتونو څخه استفاده کولی شي، ډېرې بډاي تجربې ترلاسه کولی شي، په بېلابېلو ډګرونو کې د کوربه هېوادونو پرمختګونه شارلی شي، د مثبتې او ښه حکومتولۍ تجربې ښارلی شي، هغه تجربې ښارلی شي چې د هغو هېوادونو د سياسي استحکام او امنيتي استقرار لامل ګرځېدلي دي، په کوربه هېوادونو کې د حاکم نظام او ملت ترمنځ د مثبتو اړيکو او د اعتماد د موجودې فضا تجربه ترلاسه کولی شي او د بېرته راستنېدو او يا هم په بېلابېلو فرصتونو کې د دې مثبتو او مهمو تجربو او په بېلابېلو ډګرونو کې د ترلاسه شوو تجربو او فني او علمي مهارتونو څخه د هېواد او ملت په ګټه استفاده کېدلی شي او په دې توګه دوی په هېواد کې د سياسي ثبات او د امنيت د استقرار او د پرمختګ لامل ګرځېدلی شي.

دويم حالت: که په بهرنيو هېوادونو کې موجود افغان کډوال او يا هم نوي کډه کوونکي افغانان په افغانستان کې د شته نظام سره توافق و نه لري او په مخالفت کې يې قرار ولري، د مخالفت دا حالت چې په هره کچه وي په هماغه کچه پر هېواد او په هېواد کې پر موجود نظام په سياسي او امنيتي ډګر کې منفي اغېزې کوي.

په بهرنيو هېوادونو کې د ميشتو افغانو کډوالو د شتون اغېزې د هېواد په سياسي او امنيتي حالاتو مثبتې دي که منفي، دا قضيه د دې پورې هم تړاو لري چې څوک دا قضيه څېړي، که څوک د نظام مخالف وي هغه ته د نظام پر ضد ټولې اغېزې مثبتې ښکاري او څوک چې د نظام سره تړاو لري هغه ته دا ټولې هڅې منفي معلومېږي.

موږ دلته يو لړ هغو اغېزو ته اشاره کول غواړو چې د افغان کډوالو شتون يې پر هېواد درلودلی شي، دا چې دا اغېزې منفي دي که مثبتې، په دې اړه مو لکه مخکې چې وويل ليد لوری تفاوت کوي، خو په عامه توګه هره هغه څه چې له بهر څخه پر يو هېواد تپل کېږي، او د بهرنيو هېوادونو ګټې خوندي کوي او يا د بهرنيو هېوادونو اجنډا وي هغه به غالبا د هېواد لپاره مثبتې پايلې نه لري، څکه دا بهرني هېوادونه او لورې خپلې ګټې خوندي کول غواړي او دا ګټې به غالبا د افغانستان د ګټو سره په ټکر کې وي، نو په دې څېړنه کې په هېواد کې سياسي او امنيتي استحکام ته د مثبت ليد لورې له منظره موږ د افغانو کډوالو پر هېواد او نظام باندې د منفي اغېزو په څېړلو ترکيز کړی دی، مثبتو اغېزو ته مو پاملرنه نه ده کړې.

**لومړی: د هېواد دننه پر سياسي تصميمونو د افغانو کډوالو اغېزې**

هغه افغان وګړي چې په نورو هېوادونو کې ژوند کوي، کورنۍ يې هلته استوګنه لري، او هغوی په افغانستان کې کوم رول درلودلی شي، له دې افغانانو څخه کوربه هېوادونه اعظمي ګټه پورته کوي، د افغانستان په دننه کې په تصميم نيونکو مسؤوليتونو کې د توظيف لپاره زمينه ورته برابروي او د خپلو ګټو د ساتلو لپاره ترې کار اخلي، او د دوی له لارې داسې تصميمونه نيول کېږي چې د هغو هېوادونو ګټې خوندي کوي، او کله چې دا ګټې د افغانستان د ګټو سره په ټکر کې وي نو افغانستان ترې زيات متضرر کېږي، ډېر ځله خو هغه کوربه هېوادونه په افغانستان کې دې ته زمينه برابروي چې د هغوی سره اړيکې درلودونکي افراد په حساسو ځايونو کې ځای پر ځای کړي او د اړتيا په وخت کې، او د تصميمونو د نيولو په وخت کې داسې تصميمونو نيولو ته لاره هواره کړي چې د نوموړو هېوادونو په ګټه وي[9]، د تير جمهوريت په دوران کې په بېلابېلو کابينو

[9] - Ali Ahmad Safi, Mathias Czaika, 2024, The transnational engagement of Afghan diaspora organizations: Drivers of diaspora specialization. Globle Networks "A journal of transnational affairs, link"https://doi.org/10.1111/glob.12484"

کې ډېر داسې وزيران ؤ چې په څرګند ډول به يې په اړه ويل کېدل چې د کوم هېواد ملاتړ ورته تر لاسه دی، او د کوم هېواد په مرسته دې منصب ته رسېدلي دي او دوی به هغه خلک ؤ چې غالبا به يې په هغه هېواد کې ژوند کړی وه او کورنۍ به يې هلته اوسېده او بيا به يې داسې تصميمونه نيول چې د هغوی د کوربه هېوادونه په ګټه به ؤ[10].

همدا راز ګاونډيو هېوادونو او د هېواد شا او خوا پرتو هېوادونو همېشه د دې هڅه کړې چې د خپلو موخو لپاره د هغو خلکو څخه ګټه پورته کړي چې په دې هېوادونو کې ميشت وي، او يا يې کورنۍ هلته اوسېږي، له دې جملې څخه پاکستان او ايران د يادولو وړ دي، دا ګاونډي هېوادونه به اوس هم د دې هڅه کوي چې له هماغه تکتيک څخه ګټه واخلي، او په تصميمونو اغېزمن وه اوسېږي، پاکستان او ايران په منطقه کې خپلې موخې لري، د خپلو ګټو د ساتلو لپاره بېلابېل سياستونه غوره کوي، په يو وخت کې د دوو متضادو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره کار کوي، د بېلګې په توګه ايران غواړي د اسلامي امارت سره هم اړيکې غښتلې کړي، او په عين وخت کې له دې امله چې ايران د سيمې په کچه خپله پروژه لري او هغه د دوی په اصطلاح د اسلامي انقلاب تر چترۍ لاندې د سيمې د هېوادونو د را ټولولو له لارې په يو داسې سيمه ايز قوت ځان بدلول دي چې د سيمې په اړه مهم او بنسټيز رول ولري، دې موخې ته د رسېدو لپاره هغه د خپلو طبيعي متحدينو (که هغه د مذهب پر بنسټ اتحاد وي او که د ژبې پر بنسټ وي، چې دلته له دواړو څخه کار اخلي) همکاريو ته اړتيا لري، لکه دا هڅې يې چې په لبنان، سوريه، عراق او يمن کې ګورو د دې هدف د تر لاسه کولو لپاره په ايران کې د موجودو افغانو کډوالو څخه استفاده کولی شي.

همدا راز د ګاونډيو په توګه د ايران او افغانستان ترمنځ ډېرې ستونزې شتون لري چې ايران په دې اړه همېشه په دې هڅه کې وي چې په دې اړه په افغانستان کې نيول کېدونکي تصميمونه پر خپله ګټه را وڅرخوي، د بېلګې په توګه لاندې مسئلې د يادولو وړ دي:

لومړی: د اوبو پر سر شخړې، ايران همېشه فشار واردوي چې د هلمند او هري رود د سيندونو څخه د دوی د اوبو حق نه ورکول کېږي، د افغانستان په خاوره کې پر دې سيندونو باندې د اوبو نوي بندونه لکه د کمال خان بند او د بخش آباد بند او پر هری رود باندې د پاشدان بند او داسې نورو بندونو د ايران ناروا اعتراضونه نور هم زيات کړي دي، ايران د همدې توظيف شوو پخوانيو کډوالو له لارې په دې اړه نيول کېدونکي تصميمونه تر خپلو اغېزو لاندې راولي.

دويم: په ايران کې د موجودو افغان کډوالو سره د ايرانيانو او ايراني پوليسو ناروا سلوک او په دې اړ د بنسټيزو انساني حقوقو څخه سرغړونې، دا د لويو ستونزو لامل ګرځي، ايران همېشه د دې هڅه کوي چې په دې اړه د افغانستان له لورې اواز پورته نه شي چې په نړيواله کچه د ايران شهرت ته صدمه ورسوي، او په دې اړه د افغانستان له لورې د اواز پورته کېدل غالبا د همدې توظيف شوو پخوانيو کډوالو له لارې د ممانعت سره مخ کېږي.

دريم: د سيمې په هېوادونو کې د ايران په نيابتي جنګونو کې د افغانو کډوالو څخه ناوړه ګټه، لکه د سوريې په جنګ د افغانانو څخه جوړ شوی د فاطميون لښکر، په دې اړه هم ايران په دې اصرار لري چې دا قضيه په نړيوالو فورمونو کې پورته نه کړی شي او د افغانستان پر سياسي قيادت د دې لپاره فشارونه راوستل غواړي او دا فشارونه د همدې پخوانيو توظيف شوو کډوالو له لارې صورت نيسي.

---

[10] - په دې اړه: رنګين دادفر سپنتا، سياست افغانستان روايتی از درون (انتشارات عازم، کابل، افغانستان) لومړی چاپ، کال ۱۳۹٦هـ ش، په بېلابېلو ځايونو کې د هغو افغانانو يادونه کوي چې په تصميم نيوونکو منصبونو يې کار کاوه او د بېلابېلو هېوادونو څخه راغلي ؤ، همدا راز، عبد الکريم خرم، چهل سال در طوفان () سال چاپ په بېلابېلو ځايونو کې د دې قضيې د اثبات لپاره جالبې قصې لري.

همدا راز د سرحدي شخړو، د مذهبي لړکیو له لارې د افغانستان سیاست پر خپل محور د را څرخولو هڅې، همدا راز د ژبې پر بنسټ د افغانستان په چارو کې لاس وهنې، د سوداګرۍ اړوند مسئلې او داسې نورو ټولو مسئلو په اړه د افغانستان دریځونه د همدې پخوانیو کړوالو له لارې په خپله ګټه را څرخوي[11].

همدا راز پاکستان په سیمه کې خپلې اقتصادي او سیاسي موخې لري، په ځانګړې توګه د افغانستان سره د ډېرو مسئلو پر سره اختلاف لري چې پاکستانی اړخ ورته د استراتیژیکو مسئلو په سترګه ګوري، پاکستان د دې او دې ډول نورو مسئلو لپاره دې ته اړتیا لري چې د هغو شخصیتونو څخه ګټه واخلي چې په پاکستان کې کړوال پاتې شوي، هلته یې ګټې خوندي دي، هلته تجارتونه او کاروبارونه لري او په یو شکل او یا هم بل شکل د پاکستان او پاکستاني استخباراتي مؤسساتو تر اغېز لاندې وي، دا ډول مسئلې ډېرې زیاتې دي خو له دې جملې څخه د پاکستان له نظره دا لاندې مسئلې ډېرې مهمې دي:

- د کابل او کنړ د سیندونو د اوبو قضیه
- د ډیورنډ کرښه او دواړو خواو ته د پرتو پښتنو قومونو مسئله او وخت تر بله په سرحدونو باندې د جګړو رامنځته کېدل.
- د هند سره د افغانستان د اړیکو قضیه او د پاکستان له پلوه دا اړیکې د خپل ځان لپاره تهدید ګڼل.
- د پاکستان له پلوه د چین سره د خپلو اړیکو او اقتصادي ښکېلتیاو د جاري ساتلو لپاره هڅې، او په دې لړ کې له دې څخه وېره چې چین افغانستان ته د پاکستان د بدیل په سترګه و نه ګوري، او د دې لپاره داسې فشارونه واردول چې افغانستان په سیمه کې د یو مستقر هېواد په توګه په سیمه کې د خپل رول د لوبولو جوګه نه شي.
- په اوسنیو شرایطو کې د وزیرستان د مهاجرینو او د قبائلي سیمو قضیه (چې پخوا د پښتونستان په نوم یادېدله) او اوس يې ټي ټي پي او نورو سیاسي ګوندونو یې داعیه را پورته کړې ده، د پاکستان له لورې د دې تورونه چې د پاکستان د طالبانو تحریک د افغانستان له خاورې څخه عملیات کوي.
- همدا راز د تجارتي مسئلو، د ترانزیت د ستونزو قضیه، او د پاکستان له نظره د توکو د قاچاق قضیه.

د دې ټولو مسئلو په اړه د فشار د ساتلو او واردولو لپاره پاکستان د افغانستان په دولت او حکومت کې داسې جهتونو ته اړتیا لري چې د هغه سره په دې اړه همکاري وکړي، داسې تصمیمونه ونیسي چې د پاکستان په ګټه وي، او دا اړخونو دوی د هغو مهاجرینو له منځ څخه پیدا کولی شي چې هلته میشت دي، کورنۍ یې هلته ژوند کوي او یا یې تجارتي، کاروباري او نورې اړیکې هلته خوندي دي، دا کار د پاکستان دولت او ادارو پخوا هم کړی دی او په راتلونکې کې هم له همدې تخنیک څخه کار اخیستلی شي، د تېر جمهوریت او له هغه څخه دمخه هم په داسې ځایونو او منصبونو کې هغه خلک توظیف کېدل چې د پاکستان ګټې خوندي وساتي، د بېلګې په توګه د سرحدي ولایتونو والیان به غالبا هغه څوک ټاکل کېدل چې له دوی سره لار یوسي، لکه مخکې چې دا کار شوی دی له دې وروسته هم پاکستان او د هغه هېواد اداري له همدې تخنیک څخه کار اخیستلی شي.

[11]- Hamdard, N. M., Shinwari, M. J., & Stanikzai, I. U. (2024). *Iran–Afghanistan border management and migration challenges: A comprehensive analysis. International Journal of Contemporary Issues in Social Sciences, 3*(2), April–June 2024.

**دویم: په بهرنیو هېوادونو کې د میشتو افغانو کډوالو فعالیتونه او پر نظام یې سیاسي اغېزې**

دا خو یو څرګند حقیقت دی چې کله هم د یو هېواد څخه د هغه یو زیات شمېر وګړي بهرنیو هېوادونو کې مهاجر وي، د هغوی ډول ډول سیاسي فعالیتونه د هېواد د سیاسي حالت په عدم استحکام کې بنسټیز رول لري، د دې کډوالو فعالیتونه ورو ورو داسې حالت ته رسېږي چې ډېر مستحکم حکومتونه هم د سقوط سره مخ کوي.

که موږ د خپل هېواد په تېر پنځوس کلن تاریخ یو ځغلنده نظر واچوو، په بهرنیو هېوادونو کې د میشتو افغانو کډوالو فعالیتونه د دې لامل شوي دي چې د وخت د حکومتونو لپاره ډېرې جدي ستونزې رامنځته کړي، د بېلګې په توګه په پاکستان کې د سني جهادي تنظیمونو سیاسي فعالیتونه[12] او په ایران کې د اهل تشیع جهادي تنظیمونو سیاسي فعالیتونه، همدا راز په نوره نړۍ؛ اروپا، امریکا او عربي نړۍ کې د موجودو کډوالو سیاسي فعالیتونه د دې لامل شول چې په پای کې د کمونستانو رژیم سقوط وکړي او د پخواني شوري اتحاد سیاسي پروګرام په افغانستان کې د ناکامۍ سره مخ کړي.

همدا کړنه له هغه وروسته څو ځله تکرار شوه، او د جمهوریت په را غورځولو کې د اسلامي امارت د سیاسي کمیسیون فعالیت خو له هیڅ چا څخه پټ نه دی، په حقیقت کې د قطر د دفتر پرانیستل یوه داسې لویه لاسته راوړنه وه چې د اسلامي امارت د ورستنیو کامیابیو لپاره یې لاره هواره کړه، او دا اغېزمنتیا هغه وخت لا زیاته شوه چې د همدې سیاسي فعالیتونو په پایله کې اسلامي امارت په دې وتوانېده چې د سیمې هېوادونه په دې قانع کړي چې په افغانستان کې به د اسلامي امارت د حکومت بیا راتګ به نه د ګاونډیو لپاره تهدید وي او نه به د سیمې د هېوادونو لپاره، او بیا د همدې سیاسي فعالیتونو د اغېزمنتیا په نتیجه کې د امریکا متحده ایالات په دې قانع او دې ته اړ شوه چې په افغانستان کې د چارو واګې اسلامي امارت ته وسپاري[13].

په بهرنیو هېوادونو کې د افغانانو شتون او د افغانو کډوالو موجودیت اوس هماغسې پایلې لرلی شي لکه په مخکې وختونو کې یې چې لرلي دي، په بهرنیو هېوادونو کې میشت مهاجرین د سیاسي فعالیتونو له لارې په هېواد کې ډېرې سیاسي ستونزې رامنځته کولی شي چې لاندې ستونزو ته اشاره کولی شو:

- په بهرنیو هېوادونو کې میشت افغانان او کډوال د اسلامي امارت پر ضد بېلابېل تشکیلات او تبعیدي ډلې رامنځته کولی شي، چې تر اوسه په دې لړ کې زیات شمېر تشکیلات د بېلابېلو نومونو لاندې رامنځته شوي دي، چې په قرار قرار د ځان د پیاوړتیا لپاره ګامونه پورته کوي او هڅې کوي، په دې لړ کې ډېر هغه خلک فعال دي چې د اګست ۲۰۲۱م نه وروسته له هېواد څخه بهر ته ولاړل او کډوال شول، په بهرنیو هېوادونو کې د دې ډلو بېلابېل فعالیتونه په افغانستان کې سیاسي بې ثباتۍ ته لاره هوارولی شي.

---

[12] - محمد یوسف، و مارک دکین، ترجمه فارسی: محمد قاسم آسمایي، افغانستان تلک خرس یا حقایق پشت پرده جهاد در افغانستان، نشر الیکترونیکی، سال ۲۰۱۵م.

[13] - په دې اړه بې شمېره لیکنې شته، په انګلیسي، پښتو، فارسي، اردو او نورو بې شمېره ژبو خو موږ د حوالو اړتیا ځکه نه احساسوو چې دا قضیې زموږ تر مخه تېرې شوي دي، خپل معلومات د نورو په نسبت قطعي وي، خو بیا هم د بېلګې په توګه وګورئ: د ستیف کول کتاب:

Coll, S. (2004). *Ghost wars: The secret history of the CIA, Afghanistan, and Bin Laden, from the Soviet invasion to September 10, 2001.* New York, NY: Penguin Press.

همدا راز د نعمت الله نجومي په انګلیسي ژبه کتاب (The Rise of the Taliban in Afghanistan: Mass Mobilization, Civil War, and the Future of the Region) د (Barnett R. Rubin) زیات شمېر مقالې، همدا راز د احمد رشید هغه کتابونه چې د افغانستان او طالبانو په اړه یې لیکلي دي.

- په بېلابېلو هېوادونو لکه اروپا، امريکا، تاجيکستان، ايران، ترکيه او پاکستان کې د بېلابېلو سياسي غونډو، کانفرانسونو او مجالسو له لارې په افغانستان کې د سياسي عدم استحکام فضا را منځته کول.
- په بهرنيو هېوادونو کې ميشت يو شمېر افغان کډوال د مظاهرو، سياسي فعاليتونو او د مؤثرو شخصيتونو سره د ملاقاتونو له لارې په بهرنيو هېوادونو د فشارونو د واردولو هڅه کوي چې د اسلامي امارت د حکومت سره اړيکې و نه لري، او له دې لارې په ټول توان د دې هڅه کوي چې د اسلامي امارت او دې هېوادونو ترمنځ اړيکې عادي کېدو ته ولاړې نه شي.
- د رسنيو د رامنځته کولو له لارې او په نړيوالو رسنيو کې د دوامداره حضور له لارې ولسي فشارونه زياتول، او د درواغو او رښتيا داسې قضيې نشر ته سپارل چې د هېواد پر سياسي نظام د خلکو باور راکم کړي او هېواد د سياسي عدم استحکام په لور سوق کړي.
- د بېلابېلو اعلاميو، بيانيو او د بهرنيو هېوادونو د چارواکو، مسؤولينو او مؤثرو شخصيتونو سره د ليدنو او کتنو په ترڅ کې داسې قضيې مطرح کول چې د بهرنيو هېوادونو له لورې د اسلامي امارت په رسميت پېژندلو کې خنډونه رامنځته کوي، لکه د ښځو عمومي حالت او په ځانګړې توګه د هغوی د تعليم مسئله.
- د همدې سياسي فعاليتونو له لارې د اقتصادي فشارونو، همدا راز د انساني حقوقو د قضيو د را پورته کولو له لارې په اسلامي امارت بېلابېل فشارونه واردول او په هېواد کې سياسي بې ثباتي رامنځته کول.

دا ټول فعاليتونه په يو وخت کې داسې معلومېږي چې کومه اغېزه نه لري، په ځانګړې توګه په نظام کې دننه خلک په پيل کې دا تصور کوي چې دا ډول فعاليتونه کومه اغېزه نه لري او نظام له داخل څخه ډېر قوي او مستحکم دی، نظامي قوت د نظام په لاس کې دی، مخلص منسوبين لري، لکه خلقيانو او پرچميانو به چې همدا ډول تصور کاوه، خو د وخت په تېرېدو سره نړيوال شرايط او حالات بدلون مومي، د هېوادونو ګټې د يو بدلون سره تړاو پيدا کوي، په داخلي ظروفو کې بدلون رامنځته کېږي، د اقتصادي، سياسي او ټولنيزو اړتياوو د نه پوره کېدو په له امله داخلي صف کې هغه تماسک نه پاتې کېږي چې په لومړي سر کې شتون لري، او کله چې متعدد بېلابېل لاملونه او اسباب را جمع شي نو بيا دا حالت د نظامونو لپاره جدي ستونزې رامنځته کوي او د نظامونو د له منځه تللو لامل ګرځي.

**دريم: په بهر کې د موجودو افغانو کډوالو اجباري راستنول او د راستنولو تهديدونه**

په بهرنيو هېوادونو کې د افغانو کډوالو موجوديت د کوربه هېوادونو لپاره د فشار يوه لويه وسيله ده، له دې وسيلې څخه په همېشه کوربه هېوادونو ګټه اخيستې ده، او په هغو هېوادونو کې د يو لوی شمېر مهاجرينو موجوديت يې همېشه د افغانستان پر ضد د فشار د يوې وسيلې په توګه استعمال کړی دی، ځکه د بهرنيو هېوادونو او په ځانګړې توګه د ګاونډيو هېوادونو څخه د افغانو کډوالو اجباري او بې پلانه را ايستل د هېواد په دننه کې په ډېرو اړخونو اغېز درلودلی شي، د اسلامي امارت لپاره ډېرې سياسي ستونزې ايجادولی شي، چې دلته په لنډ توګه دا اغېزې او ستونزې په لاندې ډول په ګوته کولی شو:

**لومړی: د اجباري راستنولو سياسي اغېزې**

- د دولت د ولسي مشروعيت ازموينه: کله چې کډوال په اجباري توګه او له پلان څخه پرته له ګاونډيو هېوادونو څخه بېرته را استول کېږي، نو په طبيعي توګه به دا بېرته را ستنېدنه د بې نظمۍ او تاو تريخوالي سره مل وي، او کله چې

داسې وي نو دا کار د افغانستان پر واکمنو ادارو او په ټوله کې د اسلامي امارت پر نظام باندې د خلکو اعتماد ته زیان رسولی شي، ځکه دوی نشي کولای د ستنو شویو وګړو لپاره بنسټیز خدمات برابر کړي او په دې توګه یې عملي مشروعیت تر سوال لاندې راځي.

- په زور او بې پلانه توګه د افغانو کډوالو راستنول د افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ اړیکې نورې هم ترینګلې کوي، ځکه دا ډول را ستنول همېشه د مهاجرو پر ضد د زور زیاتي، تحقیر او توهین سره مل وي لکه اوس یې چې موږ په پاکستان کې د سر په سترګو ګورو، او دا ډول چلند د ملت څخه دمخه د دې هېواد چارواکي را پاروي، همدا راز افغان حکومت او اسلامي امارت دا کار د بنسټیزو بشري حقوقو مخالفت ګڼي، همدا راز دا کار د ملګرو ملتونو د چارترونو خلاف یو عمل بولي او کوربه هېوادونه دې ته تیار نه دي، او دا ډول څرګندونې د نړۍ په کچه د خپلو هېوادونو د بدنامولو هڅې بولي.
- د مهاجرینو په زور او په بې پلانه توګه را ستنول په هېواد کې د موجود نظام لپاره د نړیوال ملاتړ د کمښت لامل ګرځي او دا ځکه که د راستنېدونکو کډوالو مهاجرینو ستونزه د افغانستان له لوري په سمه توګه مدیریت نشي، نړیواله ټولنه ښایي د افغانستان د داخلي ستونزو پرې پر حکومت واچوي او داسې وانګېري چې د افغانستان په حکومت او نظام کې ظرفیتونه شتون نه لري، د ستونزو د مدیریت توان نه لري، او د یو ناتوانه او ناکام نظام په توګه یې وپېژني او له دې امله د حکومت سره په دې لړ کې خپلې مرستې محدودې کړي.
- په دې ډول د کډوالو بېرته راستنول د کار او کاري فرصتونو پر بازار فشار زیاتوي، سلګونه زره راستنیدونکي خلک، چې ټول به بې کاره وي، ټول به له نوي سر نه د کار او روزګار په لټه کې وي چې دا به د کار د موندلو لپاره رقابت زیات کړي، چې دا به د مزدورانو د اجرتونو کمیدو او د بیکارۍ د زیاتېدو لامل شي، دا به جدي مدیریت ته اړتیا ولري، همدا راز د دې کار لپاره به وسایلو ته اړتیا وي خو که چېرته دا کار په درسته توګه مدیریت نه شي نو ټولنه د بې ثباتۍ په لور وړلی شي.
- د کډوالو په دې ډول د راستنېدنې له امله به د هېواد په زېربناوو فشار زیات شي، راستنېدونکي کډوال سرپنا، روغتیا، تعلیم او نورو خدماتو ته اړتیا لري، چې دا به د افغانستان په محدود اقتصادي وسایلو به فشار نور هم زیات کړي، په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې د کډوالو لپاره د کارکوونکو نړیوالو ادارو او موسساتو سره اړیکې هم ډېرې غښتلې نه دي.
- د زیات شمېر کډوالو په اجباري او بې پلانه توګه را ستنول په هېواد کې د ټولنیز ثبات ګډوډېدو لامل ګرځي، د راستنیدونکو لپاره د امکاناتو نشتوالی، بې کاري، او بې ځایه کېدل د ټولنیزو شخړو، جرمونو، او نارضایتۍ لامل ګرځېدلی شي.

دا او دا ډول نورې هغه ستونزې چې د زیات شمېر کډوالو په اجباري توګه د راشړل کېدو له امله را ولاړېدلی شي په پایله کې سیاسي بې ثباتۍ ته لاره هوارولی شي.

**دویم: د اجباري را ستنولو امنيتي اغېزې**

په اجباري او غير پلاني ډول د کډوالو بېرته راستنول پر هېواد ډېرې امنيتي اغېزې دلولودلی شي، چې يو لړ مهمو اغېزو ته يې دلته اشاره کول غواړو:

- د کډوالو دا ډول بې پلانه اجباري راستنول دې ته فرصتونه برابروي چې افراطي ډلې د دې حالت څخه ګټه پورته کړي، د خلکو نا رضايتي، بې کاري او ټولنيز محروميت داسې عوامل دي چې افراطي ډلې ترې ګټه پورته کولی شي، او کله چې په دومره لوی شمېر کډوال بېرته راستانه کړی شي نو په هېواد کې دا ډول حالت رامنځته کېدلی شي، چې دا ډول حالت بيا د مخالفينو له پلوه د نوو جنګياليو د جذب لپاره زمينه برابروي.
- د کوربه هېوادونو د استخباراتي مؤسساتو او ادارو له لورې د دې اجباري راستنېدونکو په ضمن کې داسې خلک افغانستان ته را دننه کول ممکن دي چې هغوی د هېواد په دننه کې د هغو هېوادونو په لارښوونه په افغانستان کې امنيتي ستونزې رامنځته کړي، د نظام د مخالفو عسکري ډلو سره مرسته وکړي او په دې توګه هېواد د امنيتي ستونزو سره مخ کړي.
- که دا اجباري راستانه کړی شوي کډوال په سرحدي سيمو کې ميشت شي او د دې سيمېو اوسېدونکي وي نو د هېواد نظم او امنيت ته زيان رسولی شي، دکوربه هېوادونو د خپلو ايجنټانو له لارې چې د دې راستنېدونکو کډوالو په ضمن کې به يې په دې سيمو کې ځای پر ځای کوي، د قاچاق، وسلوالو حرکتونو ته د فرصتونو د برابرولو کار اخېستل کېدلی شي.
- د دې اجباري او بې پلانه را ستنېدونکو کډوالو له امله ټولنيز امنيت د خطر سره مخ کېدلی شي، او په ټولنه کې جرمونه زياتېدلی شي، او دا ځکه چې فقر، بيکاري، او ټولنيز فشارونه ممکن ځينې خلک غيرقانوني فعاليتونو ته سوق کړي، لکه غلا، نشه‌يي مواد، يا قاچاق او داسې نور.

ګاونډي هېوادونه دا ټولې پايلې درک کوي، او تصور يې دا دی چې د مهاجرينو اجباري او بې پلانه را ايستل او يا دا تهديد کول افغانستان او د افغانستان اسلامي امارت دې ته اړ کولی شي چې د ګاونډيو هېوادونو غوښتنې ومني، نو همېشه يې له دې ورقې څخه استفاده کړې ده او په راتلونکې کې به يې هم کوي، خو موږ هغه وخت دا د فشار دا وسيله د دوی څخه اخيستلی شو چې موږ خپل هېوادوال د يو پلان سره سم، د نړيوالو مؤسساتو او ادارو سره په همغږۍ او د کوربه هېوادونو سره په تفاهم خپل هېواد ته په داسې توګه را ستانه کړو چې د هغوی انساني کرامت او انساني حقوق خوندي وي.

**څلورم: په بهرنيو هېوادونو کې د کډوالو د شتون امنيتي اغېزې**

په بهرنيو هېوادونو کې د ګڼ شمېر کډوالو شتون د هېواد لپاره بېلابېلې پايلې او اغېزې درلودلی شي، چې دلته په لنډ ډول دې پايلو ته اشاره کول غواړم.

**لومړی: د اړتيا په وخت کې نظامي ډلې جوړول او تقويه کول**

زموږ تېر تاريخ د دې ګواه او شاهد دی چې په افغانستان کې هر څومره مقاومتونه او جهادونه چې شوي دي، دا مقاومتونه افغانو ډلو مخ ته وړي دي، خو د کډوالو او مهاجرينو د موجوديت په نتيجه کې د دې ډلو په تقويه کولو کې زموږ ګاونډيو او نورو هېوادونو رول له هيڅ چا څخه پټ نه دی.

د کمونیستي رژیم او ړنګ شوي شوري اتحاد پر ضد په جهاد کې د جهادي احزابو رامنځته کېدل او تقویه کېدل هغه وخت ممکن شول چې په ګاونډیو هېوادونو کې افغانو کډوالو شتون پیدا کړ، په دې کې شک نشته چې دا احزاب چې په پاکستان او ایران کې رامنځته شول او په افغانستان کې یې فعالیت درلود، د هغه هېوادونو په مرسته او کومک تقویه شول، او د نورو لویو قوتونو په مالي او نظامي مرسته مخته ولاړل، همدا تجربه د امریکا پر ضد په جهاد کې هم تکرار شوه.

دلته یوې مهمې خبرې ته اشاره کول غواړم او هغه دا چې د کوربه هېوادونو د دې مرستو لامل دا نه وه چې دا جهادي ډلې د دې کوربه او مرسته کوونکو هېوادونو تابع او یا د هغوی مزدوران ؤ، بلکې حقیقت دا وه چې د هغه مقاومت او جهاد څخه د دې ډلو او د کوربه او مرستندویه هېوادونو اهداف سره مشترک ؤ، هر یو د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره کار کاوه، بېلګې په توګه، په پاکستان کې جهادي ډلو او احزابو خپل هېواد د پخواني شوروي د اشغال او د کمونیزم د نظریې څخه ژغورل غوښتل او د پاکستان موخه دا وه چې شوري اتحاد باید په افغانستان کې و درول شي تر څو په افغانستان کې د استقرار څخه وروسته د پاکستان د اشغال په تکل کې نه شي.

همدا راز د امریکا د اشغال پر ضد د اسلامي امارت جهاد هم په همدې توګه در واخله، په دې کې شک نشته چې د مقاومت په تقویت کې پاکستان او د پاکستان یو څه ادارو ونډه درلوده، خو دا همکاري او مرسته یواځې او یواځې له دې امله وه چې پاکستان له دې څخه شدیده وېره درلوده چې د دوی په ګاونډ کې د امریکا او ناټو هڅې د هغوی د اتومي تأسیساتو لپاره خطر دی، همدا راز ایران هم په خپل ګاونډ کې د امریکا موجودیت د ځان لپاره خطرناک ګاڼه.

لنډه دا چې زموږ په تېر پنځوس کلن تاریخ کې دا قضیه څو ځله تکرار شوې چې د بېلابېلو لاملونو په نتیجه کې دې هېوادونو د نظامي ډلو د جوړولو او د هغوی د تقویه کولو اقدام کړی دی، او دا کار هغه وخت ممکن شوی دی چې هلته افغانو کډوالو شتون درلود، او په دې کډوالو کې داسې خلکو شتون درلود چې په افغانستان کې د نظام مخالفین ګڼل کېدل، او یا یې غالب اکثریت داسې خلکو تشکیلوه چې په افغانستان کې د هغه وخت د نظام مخالف ؤ.

اوس هم د دې امکانات شته چې په دې هېوادونو کې د افغانو کډوالو د شتون څخه په استفادې سره داسې نظامي ډلې رامنځته کړي چې د هغوی د موخو لپاره ګټورې وي، دا ډلې تقویه کړي، په نظامي توګه یې وه روزي، په وسلو یې سنبال کړي او په مناسب وخت کې ترې استفاده وکړي او په افغانستان کې یې د نظام د ګډوډولو او له منځه وړلو هڅه وکړي، دا بېلابېلې ډلې کېدلی شي.

او دا یواځې یو تخمین نه دی بلکې د اسلامي امارت چارواکي په پرله پسې توګه د دې یادونه کوي چې د پاکستان نظامي استخبارات د یو لړ ډلو سره مرسته کوي د بېلګې په دوی یادونه کوي چې: د داعش ډلې ته روزنه ورکوي، په وسلو یې سنبالوي او بیا یې افغانستان ته د نظامي عملیاتو د اجراء کولو لپاره را لېږي، اوس خو دا لړۍ کمزورې ده خو د تمویل په پیدا کېدو او د اړتیا د لوړېدو په نتیجه کې دا هڅې ګړندۍ کېدلی شي.

**دویم: د کډوالو تجمعات او کیمپونه د مخالفو ډلو لپاره د جلب او جذب مراکز**

کله چې نظامي ډلې رامنځته شي، دا ډلې بیا په پرله پسې توګه جلب او جذب ته اړتیا لري، نوي جنګیالي باید په خپلو صفونو کې جذب کړي، هغوی ته روزنه ورکړي، په تېر پنځوس کلن تاریخ کې د کډوالو کمپونه د جهادي ډلو د جلب او جذب مراکز ؤ، له همدې کمپونو څخه به ځوانان تر دې چې نوي ځوانان به هم له همدې کمپونو څخه د دې جهادي احزابو او ډلو په لیکو کې جذبېدل.

اوس هم په ګاونډیو هېوادونو کې په یو لوی شمېر کې د افغانو کډوالو شتون د نظام مخالفو نظامي ډلو ته د دې فرصت برابروي چې د کډوالو د دې تجمعاتو څخه د خپلو صفونو د تقویت لپاره استفاده وکړي، د کډوالو د دې لویو تجمعات څخه د خپلو ډلو لپاره د جلب او جذب مراکز وګرځوي.

همدا راز د خپلو افکارو پر بنسټ باندې د افرادو د روزنې لپاره هم له همدې تجمعاتو څخه کار اخیستل کېږي، ځکه د کډوالو اولادونه چې د فقر او بې کارۍ سره مخ وي په ډېرې اسانۍ سره د دې ډلو درس خانو ته د تللو لپاره اماده کېږي.

**درېم: د نظامي ډلو په مرسته کې د بهر میشتو افغانو کډوالو اغېزې**

لکه زموږ په تېر تاریخ کې چې د نظامي ډلو او جهادي احزابو په تمویل، تدارکاتو او تبلیغاتي اړخ کې بهر میشتو افغانو کډوالو ډېر قوي رول درلوده، د دې ډلو لپاره یې وسلې، نظامي تجهیزات، مصارف، پیسې او د اړتیا وړ توکي برابرول، په ورته مهال کې به یې په نړیوالو فورمونو کې د دوی نمایندګي کوله، دوی څخه به یې دفاع کوله او هر ډول مرسته به یې ورسره کوله.

په اوسنیو شرایطو کې بیا هم دا تکرارېدلی شي، هغه خلک چې په بهرنیو هېوادونو کې کډوال دي د خپلو کوربه هېوادونو په مرسته او یا هم د خپلو وسایلو له لارې هغه وسله والو او نظامي ډلو سره همکاري وکړي چې په افغانستان کې د ګډوډیو د رامنځته کولو هڅې کوي، د دې ډلو لپاره مرستې، وسلې، تجهیزات، مصارف او نور د اړتیا وړ شیان تدارک کړي او په دې توګه د افغانستان په امنیت باندې ناوړو اغېزو ته لاره هواره کړي.

**څلورم: یو شمېر کډوال د جاسوسانو او مزدورانو په توګه استخدامول**

دا یوه طبیعي خبره ده چې کله زیات شمېر کډوال په کوم هېواد کې شتون ولري، او د هغه هېواد ګټې په افغانستان کې شتون ولري، نو په طبیعي توګه به د هغه هېواد استخباراتي شبکې د دې هڅه کوي چې د دې کډوالو څخه زیات شمېر خلک د ډېرو کمو امتیازاتو په مقابل کې په افغانستان کې د نفوذ، څارنې تر دې چې د تروریستي پیښو د سرته رسولو لپاره استخدام کړي، او دا کډوال یا د فقر او یا هم د کوربه هېوادونو د ناروا فشارونو له امله دې ته مجبور شي چې د کوربه هېوادونو د استخباراتو سره همکاري وکړي او په دې توګه د هېواد ملي امنیت یو جدي ګواښ متوجه کړي.  او د دې کوربه هېوادونو استخبارات پر هلته موجودو کډوالو هر ډول فشار راوړلی شي، خو که دا کډوال په هغه هېوادونو کې شتون و نه لري بیا دا جاسوسي شبکې په اسانۍ سره د دې توان نه لري چې خلک استخدام کړي او له دې لارې د هېواد امنیت ته ستونزې متوجه کړی شي.

**پنځم: د کډوالو څخه د خپلو نظامي موخو لپاره استفاده**

زموږ ګاونډي هېوادونو په تېرو کلونو کې د دې هڅه کړې چې د مهاجرینو د بدو حالاتو، فقر، بې وزلۍ او غربت څخه ناوړه استفاده وکړي او دوی د خپلو نیابتي جنګونو میدانونو ته ولېږي، د بېلګې په توګه د ایران له لورې د «فاطمیون» لښکر چې په افغانستان کې د کډوالو اهل تشیع څخه یې تشکیل کړی وه، او په دې نوم یې سوریې ته لېږلی وه چې هلته د دوی په اند د اهل بیتو د قبرونو او مزارونو څخه دفاع وکړي، او اصلي موخه په طبیعي توګه دا وه چې هلته د بشار الأسد د خونخوار نظام څخه دفاع وکړي چې د اهل سنتو قتل عام یې کاوه، همدا راز زیات شمېر افغانان د پاکستاني ډلو او استخباراتو له لورې د هند پر ضد د کشمیر جنګ ته لېږل کېدل. په طبیعي توګه چې کله دا منظم لښکر بېرته افغانستان ته را ستنېږي نو دا به د افغانستان د امنیت لپاره جدي ستونزې ایجادوي.

**شپږم: د سي آی ای له لوري روزل شوي قطعات او هېواد ته امنيتي ګواښ**

يوه هغه مورد چې د افغانستان امنيت ته ستر ګواښ متوجه کولی شي، او امنيتي ستونزې درلودلی شي د هغو نظامي قطعاتو کډوالي ده چې د صفري قطعاتو تر نامه لاندې د امريکا استخباراتي شبکې (*CIA*) روزلې وې، دا هغه نظامي قطعات دي چې تر اوسه پورې منظمې دي، که چېرته دا قطعات همداسې پاتې شي نو دا په راتلونکې کې د افغانستان د امنيت لپاره يو لوی ګواښ متوجه کولی شي.

**نو څه کول پکار دي**

پورته حقيقتونه دا را په ګوته کوي چې د کډوالۍ دا ستونزه که همداسې لاينحله پاتې شي نو لکه څرنګه يې چې په تير تاريخ کې د هېواد په سياسي او امنيتي استحکام اغېزې درلودې له دې وروسته هم جدي اغېزې درلودلی شي، دې ته په کتلو د دې ستونزې د واقعي او دائمي هوارولو هڅې پکار دي، ځکه که دا ستونزه همداسې پاتې وي د افغانستان غميزه به ادامه پيدا کوي، هېواد به همېشه د سياسي او امنيتي بې ثباتۍ سره مخ وي، په بهرنيو هېوادونو کې د کډوالو شتون به همېشه دې هېوادونو ته فرصت برابروي چې په بېلابېلو لارو زموږ سياسي او امنيتي ثبات ګډوډ کړي، زموږ په چارو کې لاس وهنه وکړي، او د دې په نتيجه کې به موږ د يو داسې واحد ملت په توګه د پرمختګ سفر ته ادامه ور نه کړی شو چې ګډې موخې ولري، د فشار دا ورقه به همېشه د نورو هېوادونو په لاس کې وي، هر وخت چې وغواړي زموږ په سياسي او امنيتي حالاتو له دې لارې اغېز درلودلی شي، د دې ستونزې د هوارولو لپاره لاندې ګامونه پورته کول پکار دي:

لومړی ګام: په بهرنيو هېوادونو کې د موجودو افغانو کډوالو بېرته په افغانستان کې د ځای پر ځای کولو لپاره يوه دقيقه او واقعي استراتيژي جوړول، داسې يوه استراتيژي چې اړوندو ټولو اړخونو سره په کې مشاورت شوی وي او هر اړخ خپل رول لوبولو ته اماده وي.

دويم ګام: د کډوالۍ بنستيز لاملونه بايد له منځه يوړل شي تر څو موږ د کډوالۍ مسئله حل کړی شو، د يو هېواد څخه چې خلک کډوالۍ ته اړ کېږي او يا هم کډه شوي وګړي بېرته هېواد ته نه را ګرځي، دا په بنسټيزه توګه د اورت لي د نظريې (*Push-Pull Theory*) سره سم دوه ډوله لاملونه لري، لومړی هغه لاملونه چې مونږ پورې تړاو لري او دې ډول لاملونو ته دفع کوونکي لاملونه ويل کېږي، يعنې هغه څه چې د هېواد وګړي دې ته هڅوي چې بهر ته کډوال شي او يا هغه لاملونه چې د هغوی په موجوديت کې کډوال دې ته زړه نه ښه کوي چې په خپله خوښه هېواد ته بېرته را ستانه شي، زموږ په هېواد کې ډېر زيات لاملونه شتون لري چې کډوال هڅوي چې په کډوالۍ کې پاتې شي او نور خلک هم هڅوي چې له هېواد څخه کډه وکړي، په دې کې ډېر زيات لاملونه شامل دي، خو موږ په لنډ ډول لاندې څو لاملونو ته اشاره کول غواړو:

- اوږدمهاله جګړې، او سياسي بې ثباتي.
- په اوسنيو شرايطو کې د ولسي وګړو د حقونو محدودېدل
- د يو مشخص قشر هدفي وژنې، اختطافونه او انتقامي تاوتريخوالي
- بې کاري او د کاري فرصتونو نشتوالی
- فقر او د ژوند د بنسټيزو اړتياوو نه پوره کېدل
- د بنسټيزو اړتياو اړوند د ښو اسانتياوو کموالی، لکه ښه صحي اسانتياوې، ښه تحصيلي اسانتياوې او داسې نور.
- اقتصادي بنديزونه او د نړيوالو مرستو کمښت

- د ځوانانو سره د مجهول راتلونکې څخه وېره، د ناڅرګندو حالاتو له امله هیڅ ځوان د خپل مستقبل لپاره پلان نه شي جوړولی.
- د بیان، رسنیو او سیاسي فعالیتونو محدودیت
- د یو څه خلکو له پلوه د مخالفینو، فعالانو، خبریالانو او پخوانیو دولتي کارکوونکو ځورول
- د ښځو او د ټولنې د څه نورو قشرونو د حقونو نه رعایتول
- د ښځو پر زده کړو او کار بندیزونه او محدودیتونه
- د نړۍ د هېوادونو له پلوه د اسلامي امارت په رسمیت د نه پېژندنې له امله ډېرې زیاتې ستونزې
- یو ګوندي نظام او د ولس له پلوه د عدم مشارکت احساس
- د واقعي قانون مندۍ نشتوالی، اساسي قانون شتون نه لري چې د ملت او حاکم جهت حقونه او مسؤولیتونه مشخص کړي، چې پر بنسټ یې بیا نور قوانین جوړ شي.
- د یو شمېر خلکو له پلوه خلکو ته د دې احساس ورکول چې په هېواد کې د قومي او مذهبي تعصبونو څخه کار اخیستل کېږي.
- فرهنګي فشارونه او د فردي ازادیو محدودیت
- د وچکالیو، سیلابونو او طبیعي آفتونو له امله د ژوند د اسانتیاوو له منځه تلل، او د دې ډول آفتونو سره د مبارزې او د دې د اغېزو د کنټرول او معالجې په برخه کې پاتې راتلل.
- د ژوند لپاره د چاپېریالي شرایطو خرابوالی

دغه ټول عوامل خلک اړ باسي چې د امن، اقتصادي فرصتونو، ازادۍ او د ښه راتلونکي په لټه کې له هېواده ووځي، او یا هم هغه هېوادوال چې په بهرنیو هېوادونو کې ژوند کوي هلته پاتې شي او خپل هېواد ته د راستنېدو هڅه و نه کړي.

که موږ غواړو چې په واقعي توګه د کډوالۍ دې ستونزې ته د پای ټکي کېږدو نو پکار بـه دا وي چـې مـوږ پـه ملـت سازۍ اهتمام وکړو، هغه لاملونه له منځه یوسو چې زموږ هېوادوال کډوالۍ ته اړ کـوي، او پـه دې اړه ټـول ملـت مسؤولیت لـري خـو د اسلامي امارت مسؤولیت تر هر چا زیات دی.

دویم ډول لاملونه هغه دي چې د اورت لي په نظریه کې د جذبوونکو لاملونو *"Pull"* په توګه یاد شوي دي، د دې معنی دا ده چې زموږ هېوادوال چې غواړي نورو بهرنیو هېوادونو ته کډوال شي او یا هم بېرته را ستانه نه شي هلته یو څـه لاملونـه شـته چـې دوی تشویقوي او هلته یې تللو او پاتې کېدلو ته هڅوي، موږ ته هڅه پکار ده چې په هېواد کې داسې حالت رامنځته کړو چې د نورو هېوادونو د جذب لاملونه را کم شي او په نتیجه کې یې د کډوالۍ کچه را ټیټه شي، دا لاملونه په لاندې ډول په ګوته کولی شو:

هغه هېوادونه چې زموږ هېوادوال هلته کډوالۍ ته لیوالتیا لري او یا هم چې هلته تللي دي بېرتـه را سـتنېدلو تـه زړه نـه ښـه کوي، لاندې جذبوونکي عوامل شتون لري:

- سیاسي ثبات، د قانون حاکمیت او د انساني حقونو درناوی
- د جنګ، ترهګرۍ او خشونت نه شتون
- د پناه غوښتونکو لپاره خوندي چاپېریال

- د کار پیدا کولو زیات فرصتونه
- د لوړ معاش لرونکي دندې
- د کاروبار او پانګونې فرصتونه
- وړیا یا ارزانه با کیفیته زده کړې (په ځانګړې ډول د کډوالو لپاره)
- نړیوالو باکیفیته پوهنتونونو کې تحصیل ته لاسرسی
- د مسلکي زده کړو او روزنیزو پروګرامونو لپاره د مؤسساتو شتون
- روغتیایي خدمات، بیمې، او ټولنیز ملاتړ
- د استوګنې، خوراک او ژوند نورو اسانتیاوو ته لاسرسی
- د ماشومانو لپاره د ښوونې او روزنې اسانتیا
- د بیان، او رسنیو ازادي
- د ښځو او د ټولنې د نورو قشرونو حقونو ته درناوی
- د سیاسي او مدني فعالیتونو، ټولنیزو حرکتونو او اتحادیو ازادي
- د پناه غوښتنې منظم قوانین او آسانه پروسه
- د تابعیت اخیستو چانس
- په هغه هېوادونو کې د میشته کېدو، ادغام او د کډوالو ملاتړ کوونکي پروګرامونه
- د سفرونو اسانتیاوې، د پاسپورټ او نورو اسنادو اعتبار
- د کورنۍ غړو ته د ویزې اسانتیاوې

نو که په لنډه توګه ووایو چې که موږ په لاندې برخو کې اصلاحات راولی شو نو موږ به د هېواد څخه د کډوالۍ هڅوونکي عوامل له منځه وړي وي، او په نورو هېوادونو کې د کډوالۍ جذبوونکي عوامل به مو هم ضعیف کړي وي:

1. په سیاسي میدان کې بنسټیز اصلاحات او سمونې
2. د ټولنیز عدالت، د قومي، ژبنې، سمتي او قشري توازناتو د رعایت، او شفاف غیر سیاسي امنیتي، پولیسي- او استخباراتي نظام له لارې د داخلي امنیت ښهوالی.
3. د اقتصادي پرمختګونو او عامو وګړو ته د اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو له لارې ټولنیزه رفاه رامنځته کول.
4. د تعلیم، لوړو او مسلکي زده کړو اړوندو چارو هر اړخیزه اصلاح.
5. د بیان ازادي او مدني حقونه رعایتول
6. د خدماتو ښهوالی او ښه ټولنیز خدمات وړاندې کول.

په طبیعي توګه دا ګامونه د دې غوښتنه کوي چې د هېواد سیاسي قیادت دا فیصله وکړي چې په بهرنیو هېوادونو کې په دومره لوی شمېر د افغانو کډوالو شتون زموږ د هېواد په سیاسي او امنیتي حالاتو قوي اغېزې پرېږدي، او د دې اغېزو د مخنیوي یوائینۍ لار دا ده چې موږ دوه ګامونه پورته کړو:

لومړی: هغه عوامل او لاملونه له منځه یوسو چې خلک کدوالۍ ته هڅوي او یا یې بېرته د راتګ رغبت کموي، دې عواملو ته مو په تېرو څو کرښو کې تفصیلي اشاره درلوده.

دویم: که بهرنیو هېوادونو کې کډوال پاتې کېږي هم نو هغوی باید په داسې توګه قانع وساتل شي چې د نظام سره جدي مخالفت و نه لري او د هېواد لپاره مثبتې تجربې را انتقال کړي، د نظام سره د مخالفت کچه هم په دې پورې تړلې چې حاکم نظام تر کومې کچې هغه روا غوښتنې په نظر کې نیسي چې ټول هېوادوال یې لري هغوی چې په هېواد کې دننه ژوند کوي او که د کډوالو په توګه په بهرنیو هېوادونو کې دي.

دریم ګام: د هغه هېوادونو سره نږدې تماس او همغږي چېرته چې افغان کډوال اوسېږي، او دا د دې لپاره چې هلته د هغوی انساني کرامت خوندي وي او کله چې را ستنېږي په عزت سره را ستانه شي.

څلورم ګام: په ټولنه کې د را ستنېدونکو کډوالو د بیا ادغام لپاره اړین پروګرامونه تر لاس لاندې ونیول شي او د دې لپاره اوږد مهاله استراتېژي جوړه کړی شي.

**موندنې او پایلې:**

د دې څېړنې په پایله کې غواړم په ډېره لنډه توګه د دې څېړنې پایلې او وړاندیزونه د محترمو لوستونکو په مخکې په لاندې توګه کېږدم:

لومړی: کډوالي په ټوله کې یوه طبیعي پدیده ده چې خلک له یو ځای څخه بل ځای ته کډوال کېږي.

دویم: که د کډوالۍ کچه له حده څخه واوړي نو بیا غالبا منفي بعد غوره کوي چې افغانستان په تېرو پنځو لسیزو کې له همدسې یو حالت سره مخ دی چې کډوالي یې یوه ستونزه ګرځېدلې ده.

دریم: په تېرو پنځو لیسیزو کې په بهرنیو هېوادونو کې د افغانو کډوالو څخه پر هېواد باندې په سیاسي او امنیتي ډګر کې د اغېز د یوې مؤثرې وسیلې په توګه کار اخیستل شوی دی.

څلورم: او د تاریخي میتود له نظره چې په تاریخ کې کومه حادثه شوی وي، او بیا هماغه ډول حالات رامنځته شي هغه حادثه بیا ځله هم تکرارېږي.

پنځم: په تیرو پنځو لسیزو کې چې زموږ په مخکې تېرې شوې دي په پرله پسې توګه د کډوالو څخه په سیاسي او امنیتي ډګر کې پر هېواد باندې د اغېز د یوې مؤثرې وسیلې په توګه کار اخیستل شوی دی، او اوس هم دا کډوال په همدې موخه استفاده کېدلی شي.

**وړاندیزونه:**

وړاندیز دا دی چې دې ستونزې ته باید د ستونزې په سترګه وکتل شي او د دې د هوارولو لپاره باید جدي ګامونه پورته کړی شي. چې دا په لاندې توګه کېدلی شي:

1. هغه لاملونه چې له هېواد څخه خلک کډوالۍ ته هڅوي هغه له منځه یوړل شي او یا را کم کړی شي.
2. هغه لاملونه چې نورو هېوادونو کې شتون لري او زموږ هېوادوال خپل ځان ته را کاږي، کوښښ وشي چې هغه جذابیتونه موږ په خپل هېواد کې رامنځته کړو.
3. د کډوالو د بېرته راستنولو لپاره باید یوه هر اړخیزه استراتېژي وټاکل شي چې د ټولو اړخونو سره په کې مشوره شوې وي، او په یوه مشخصه زمني فتره کې موږ خپل کډوال بېرته هېواد را ستانه کړو.
4. د داسې هر ډول اقدام مخنیوی وکړو چې زموږ نور هېوادوال له نوي سر نه کډوالۍ ته اړ کړي.

5. د راستنېدونکو کډوالو په تړولنه کې د بیا ادغام لپاره جدي او مؤثر پروګرامونه تر لاس لاندې ونیول شي، چې را ستنېدونکي هېوادوال د ستونزو سره مخ نه شي.
6. د دې ډول استراتېژۍ او د تفصيلي پروګروامونو د طرح کولو لپاره بـه د دې اړتيا وي چې مـوږ د هـرې قضـيې لپـاره جدي څېړنې سرته ورسوو او خپل پروګرامونه د همدې څېړنو پر پايلو باندې بنا کړو.

و سبحانک اللهم وبحمدک نشهد أن لا إله إلا الله نستغفرك و نتوب إليك.

**د مصادرو نوملړ**


1. قرآن کريم: په قرآن کريم ډېر هغه آيتونه چې د مخکينيو امتونو د انجام څخه د عبرت اخېستلو سپارښتنه کوي د دې تحقيقي ميتود او نظري چوکاټ بنسټ جوړوي.
2. عمومي تاريخي معلومات غالبا د ليکوال د لومړي لاس معلومات دي، څکه د تېرو پنځوسو کلونو د حوادثو ژوندی شاهد دی.
3. بدوي، عبد الرحمن، مناهج البحث العلمي، (وکالة المطبوعات، شارع فهد السالم، الکويت) دريم چاپ، کال ۱۹۷۷م.
4. محمدی, یدالله , خداوردی, حسن , کشیشیان, گارینه و مطلبی, مسعود . (1398). علل و ویژگی‌های مهاجرت اتباع افغانستان به ایران و تأثیر آن بر امنیت ملی جمهوری اسلامی ایران بعد از انقلاب اسلامی. *رهیافت انقلاب اسلامی*. *13(49) 65-86.*.
5. https://civilica.com/doc/2146373/
6. موسوی, سید صالح و کشاورز شکری, عباس . (1403). تحلیل و بررسی تهدیدات و فرصت های سیاسی- امنیتی مهاجران افغانستانی برای جمهوری اسلامی ایران. *فصلنامه علمی راهبرد سیاسی. ۸ (۳) ۱۹۱-۲۲۷ . د مقالې لنډ لینک* (https://shorturl.at/DH20T)
7. Ali Ahmad Safi, Mathias Czaika, 2024, The transnational engagement of Afghan diaspora organizations: Drivers of diaspora specialization. Globle Networks "A journal of transnational affairs, link"https://doi.org/10.1111/glob.12484"
8. رنګين دادفر سپنتا، سياست افغانستان روايتی از درون (انتشارات عازم، کابل، افغانستان) لومړی چاپ، کال ۱۳۹٦هـ.ش.
9. عبد الکريم خرم، چهل سال در طوفان.
10. Hamdard, N. M., Shinwari, M. J., & Stanikzai, I. U. (2024). Iran–Afghanistan border management and migration challenges: A comprehensive analysis. International Journal of Contemporary Issues in Social Sciences, 3(2), April–June 2024.
11. محمد يوسف، و مارک دکين، ترجمه فارسی: محمد قاسم آسمايي، افغانستان تلک خرس يا حقايق پشت پرده جهاد در افغانستان، نشر اليکترونيکی، سال ۲۰۱۵م.
12. Coll, S. (2004). Ghost wars: The secret history of the CIA, Afghanistan, and Bin Laden, from t he Soviet invasion to September 10, 2001. New York, NY: Penguin Press.

13. Nojumi, N. (2002). The rise of the Taliban in Afghanistan: Mass mobilization, civil war, and the future of the region. New York, NY: Palgrave Macmillan.